دکتور رازمحمد پکتین
بوخوم المان ۲۰۱۳

دوه ورته يرغلونه اوډول ډول برخوردونه

دافغانستان د ستراتيژيک جيوپوليتيک موقعيت له کبله،ستروامپرا توريواودنړۍ زبرځواکونوهڅه کړې ده چې په دې سيمي باندي تسلط و لري اوتر خپل اغېزلاندي يې وساتي همدا سبب وو چې افغانستان دتاريخ په اوږدوکې د مختلفو سياسي-اتنيکي ځواکونو او ګروپونو له ميلاد څخه دمخه بيا ورو سته له ميلاده،له اسلامي تحريک څخه پخوا او له هغه نه وروسته , ترمختلفو يرغلونولاندې راغلي دي دې يرغلونوزموږ ګران هيواد ديرغلګرو دسيا ليوپه ګرم ډګر باندي بدل کړ. دا حقيقت په ۱۹پيړۍ کي دبرتانيې استعماري ځواک او تزاري روسيې ترمنځ دسياسي شخړواو دشلمې پيړۍ په دوهمه نيمايي کي دنړۍ ددووزبر ځواکونو ترمنځ دسړې جګړې په پېښوکې په ښه توګه څر ګند يږي . دغوسياليو هغه وخت لا شدت وموند چي دا.خ.د.ګ.دهيواد واګې په لاس کي واخستلې او په خاصه توګه کله چي شوروی اتحاد پرافغانستان باندې نظا مي يرغل وکړ.
دامريکا متحده ايالاتوله دې موقع څخه استفاده وکړه او په پاکستان کي يې ۷ګوني مېښت تنظيمو نه دپاکستان په مرسته دسلا اوبودجې له خوا سمبال اوټينګ ملاتړيې وکړ.ددی تنظيمو نوپه اړوند پراخ تبليغات پيل شول اود هغوی دپياوړتيا لپاره يې عربي جګړه ماران چې دمصر اونوروعربي هيوادونو په ځيلونوکې وولـه ځېلونو څخه راوايستل اودجګړې لپاره يې په پاکستان کي وروزل اوپه منظمه توګه ئې افغانستان ته رااستول چي په لومړي سر کي دعبدالله عزام اووروسته داوسامه بن لادين له خواسازماند هي کيدل.داد ځينوغربي او عربي هيوادونوهمغه دازادي چنګيالان دي چي همدااوس هم نړدې ټوله نړۍ په جګړه کې ورسره لاس اوګرېوان ده.
امريکا اوپاکستان له همغه اول څخه د طالبانوتر سقوط پوري ګډه ستراتيږي لرلـه داسترتيږي ددواړو هيوادونو په ګټه وه د شوروي اتحاد ديرغل څخه وروسته دامريکا دملي امنيت سلاکار زبګنيو برژنسکي ددې يرغل په هکله ځني حقايق افشا کړي دي چي زيات سياستوال ئې په تعجب کي اچولي وو،هغه وايي «داموږ ووچي شورويا ن مودپاکستان په مرسته په افغانستان باندي نظامي يرغل ته مجبور کړه.»وروسته دکارتر دامنيتي

چارو سلاکارلیکي:« موږ په عمدي توگه په روسانو باندي خپل فشار زیات کړچي هغوی مستقیمې مداخلې ته مجبورشي .» په کابل کي دامریکا سفارت ددې فشارنتیجې او پایلي تل ارزولي . دامریکا دسفارت په گذارش کي چي د ۱۹۷۹ کال دمی په ۹ نېټه استول شوی راغلي دي :
« اگر چي دا امکان موجود دی چي شوروي نظامي ځواکونه دافغانستان په داخلي جگړو کي ښکېل شي اومدا خله وکړی ،ولی زموږ نظردادی چي شوروي اتحاد به احتمالاً هڅه وکړي ترڅوله هغه عمل څخه چي ویتنام ته ورته تلکه اټکل کیږي ځان وژغوري . شوروي اتحادبه تردې نامه لاندي یوتحریک پیل کړي چي دافغانستان انقلاب په خطرکي دی .
ځکه په دې هکله شوروي اتحاد په وارواړپه متحده ایالاتو، چین ، پاکستان اونورو هیوادونو د مداخلې تورونه لگوي چي کیدای شي ددې تحریک لپاره ځان ته قانوني اوتبلیغا تي زمینه برابره کړي.ورپسې زیاتوي چي د شوروي اتحادځو مسلمان جمهوریتونه له افغانستان سره گډه پوله لري . په سیاسي، اقتصادي ، ستراتېژیک اونظامي برخو کي زیات قراردادونه لري او شورویان به پرینږدي چي له دې لاسته راوړنو څخه مخ واړوي.». کله چي شورویان افغانستان ته داخل شول برژنسکي پاکستان ته سفروکړ اود آی اس آی په مرسته دمهاجرینو کمپونو ته ولاړ،او هلته یي یوه بیانیه ورکړه .دې بیانیې د موعظې شکل درلوداود مجاهدینو د دیني اوتاریخي رسالت په هکله یې خبري کړي دي او بیا یي دجوماتونومناروته په اشارې سره هغو ته ډاډورکړی چي:« دتاسي دد یني دندوپه سرته رسولو کي خدای تعالی له تاسي سره دی (بشیر احمد انصاري ،افغانستان در آتش نفت ۲۲مخ)» . دادی له دین او مذهب څخه ناوړه گټه . پرون یي دمجاهدینو دیني دنده بلله اونن ئې دتروروست په نامه په بیرحمانه توگه ځپي.برژنسکي د ۱۹۸۸کال دجنوري په ۱۵ نېټه دفرانسې له نوول ابسر واتورله نشریي سره په مصاحبه کي وایي :«افغانستان ته د سره پوځ دځواکونودننوتلوڅخه ۶میاشتي مخکي موږ پراخ دام وغوړاوه تر څودا پوځ افغانستان ته داخل شي او شوروي هم خپل ویتنام ولري .». د ۱۹۷۹کال دجولای په ۳نېټه جیمي کارتر مذهبي تنظیمونو ته دمرستو پټ فرمان امضاکړ.برژنسکي په دې هکله جمهور رئیس ته لیکي:« د ما په نظر دا کمک به دشوروي ددخالت سبب وگرزي .هغه وایي موږپه شعوري توگه دروسانو ددخالت احتمال زیات کړ .» دنوموړې خپروني

ددې سوال په جواب کې چې تاسي په دې کار پښيمان نه ياست؟وايي :«
نه خير،ولي پښيمان شم؟ آيا تاسي غواړئ چې زه دهغه عالي پلان دطرحه
کولو له کبله پښيمان شم چې په افغانستان باندې مو دروسانويرغل ته په
بريالئ توګه زمينه برابره کړه ؟»وړپسې زياتوي: «په هغه ورځ چې
روسان افغانستان ته داخل شول ماجمهوررئيس کارتر ته وليکل چې :موږ
اوس ددې فرصت پيداکړ چې شوروي اتحاد ته هم دهغوی ويتنام
ورکړو.» . په دې ترتيب سره ئې شوروي اتحاد ته ماتي ورکړه .دامريکا
ددې توطئوله کبله لس کاله دافغانانو ويني وبهېدلې، اقتصاد ئې ضربه
وخوړله ، ملي شتمني ئې لوټ شوه،ملي اردوچې دهيواد دملي حاکميت او
ځمکنۍ بشپړتيا ضمانت ئې کاوه ړنګه شوه اوباالا خره ملي يووالی چې
دهيواد دملي ګټو ضامن دی زيانمن شو.برژنسکي پخپله مصاحبه کې په
دې وياړي چې دساړه جنګ د دوران دشمن ئې په تلکه کې ونيو، ولې
هيڅکله ئې دافغانانو دميليونو شهيدانو معلولينواوبيځايه شويو خلکو په
هکله فکرونه کړاوزموږدهيواد دکړاوونو په هکله چې دادوزخي لوبه ئې
سرته په کښې ورسوله،هيڅ پاملرنه ونه کړه .امريکا په افغانستان کې
خپلوموخو ته په مرحله ای توګه په لاندي ډول سره ورسيده : دويتنام دغچ
اخستلو لپاره ئې شورويان په افغانستان باندي يرغل ته وهڅول ، په افغا
نستان کې ئې دمذهبي تنظيمونو ملاتړوکړاوهغوی ئې قدرت ته ورسول
،بيائې تنظيمونو ته مرستې قطع کړې اودهغوی د مخالفينوياني دطالبانو
ملاتړ ئې وکړاوپه اسلامي نړۍ کې ئې دوستوهيوادونوته دهغوی په
رسميت پېژندل ، توصيه کول،وروپسې دطالبانو پرضد نظامي عمليات کول
اودهغوی د حکومت ړنګول او په بن کې دانتقالي اداري جوړول اوله مخه
دجوړشوي پلان تطبيقول اود يوې ځواکمنې اډې جوړول چې په لومړي
سر کې د لسو زرو نظاميانو پلي کول وو. اودهغه چاتجريدول چې د
امريکا دسياست په هکله ئې نظردرلود اوباالاخره دامريکايي ځواکونو
داوږدې مودې لپاره په هيواد کې پاتې کېدل .
داڅرګندده ده چې له هري مرحلې څخه بلې ته دانتقال په جريان کې نه
يوائې د افغانستان په زرګونوخلک په وينو کې لت پت شول ،بلکه دهيواد
مادي اومعنوي پانګه له منځه ولاړه، ملي اردو ړنګه شوه ،ملي يووالی
زيانمن شو، تاريخي آثار موهم لوټ شول ، په دې توګه سره دې مر حلو
ګام په ګام په ډېر برياليتوب سره تحقق وموند. د طالبانو درژيم له ړنګېدو

اوپه افغانستان کي دامریکائي ځواکونو له پلي کېدو سره امریکا ډېرستر اهداف اوبریاوي لاسته راوړې چي هغه په لاندي ډول دي: په مرکزي آسیا کي دخپل نفوذ دحوزې پراختیا اوپه دې حوزه دنظارت ټینګول ، په روسیه باندي دفشار اعمال اوتاثیراچول ،د منځنۍاسیا اوقفقاز اقتصادي سرچینوته لاسرسی اوخارجي پانګه والوته دپراخ بازار پرانستل ،دمنځنۍ آسیا اوکسپین دبحیرې دطبیعي زېر مو دانتقال لپاره له لنډې اواقتصادي لارې څخه استفاده کول،دایران دمحاصرې تنګول، دبحران جوړوونکې تیوري عملي کول اوبیا وروسته په سیمه کي دنظامي حضور ضرورت او دبحران مدیریت ، دمنځنۍ آسیا له هیوادونو سره داسلامي نړۍ دپیوستون دکړۍ ماتول، دچین له پولو سره نظامي حضوراوله لوېدیځ څخه ددې هیواد محاصره
دامریکا متحده ایالات دخپلوغیر مشروعو موخو دلاس ته راوړلو لپاره دپورته ذکر شوې بحران جوړوونکي تیوري پر بنسټ ، په لومړی سرکي په ذیعلاقه هیوادونو کي ګډوډیو ته لاس اچوي او بیا هغوته انکشاف ورکوي ترڅو داګډوډي اوبحران دهغه هیواد درهبري له کنټرول څخه ووزي . کله کله حتی دهیوادونوحکومتونه په زور را پرزوي .مثلاًمذهبي تنظیمونه چي طالبان دهغو جز ګڼل کېدل ، له شوروي سره دمبارزي په وخت کي دآزادۍ جنګیالان ګڼل کېد ل بیا ئي دمذهبي تنظیمونو په مقابل کي هغوی قدرت ته ورسول وروسته ئي دهغو حکومت دتروریزم تر نامه لاندي وځاپه اوړنګ ئي کړ، یاپه عراق کي دصدام حسین حکومت چي په منځني ختیځ کي ئي بیساري اردو درلود له اودسیمې هیواد ونه ځني ډارېدل ،د بیا لوژیکي سلا دموجودیت په بهانه رانسکورکړاوخپل ګوډاګی حکومت ئي دقدرت په ګدۍ کښیناوه.دهمدې ډول حکومتونوپه موجود یت کي نو بیا دوی د بحران دکنټرول ترنامه لاندي هلته خپل نظامي ځواکونه ځای پرځای کوي اود هغه هیواددمادي شتمنیوڅخه استفاده کوي اومعنوي شتمنۍ له منځه وړي ، ملي افتخارات اوملي هویت ئي تر پښو لاندي کوي اودپیسو په زور یوشمېر فاسداومافیائي عناصرتطمیع کوي او مصنوعي پانګه وال ځني جوړوي اوپه دې توګه هغه هیواد په کامله توګه ترخپل کنټرول لاندي راولي.دې وړې ایلیتې ( ډ لګۍ ) ته هیواد، خلګ اودهیواد ملي ګټې هیڅ اهمیت نه لري بلکه دخپلو شخصي اوګروپي ګټو په خاطر تل د پردیوپه چوپړکي وي، ښه مثال ئې په افغانستان کي موجوده رژیم

دی چي په کلي ډول سره له هره پلوه دامریکاپه مشرۍ په خارجي ځواکونوپوري تړلی دی اودامریکا دلاس آله ده چي بنسټ ئې په بن کي ایښودل شوی دی او هیڅ ملي بڼه نه لري .

اوس به راشو د مقا لې اصلي موضوع ته اوهغه په افغانستان باندي دشوروي اتحاد اوامریکا وسله وال یرغلونه دي چي هریو به ئي په جلا توگه وڅېړواوددې دواړو یرغلونوورته والی اوتوپیرونه به په گوته کړو.

<u>لومړی دشوروي اتحاد یرغل :</u>

له پورتني مرحله ایز پلان سره په مطابقت کي شوروي اتحاد د برژنسکي له قوله یا تشویق شو اویا مجبور شو چي په افغانستان باندي وسله وال یرغل وکړي اودا استدلال به ئي کاوه چي شوروي محدود قطعات دملگرو ملتونوله کنوا نسیون سره سم دافغانستاان اوشوروي اتحاد تر منځ ددوستي همکاري اوښه گاونډیتوب دتړون د ۴ مادې په اساس دثور دپاڅون د ژغورني لپاره راغلي دي . کله چي سرې لښکرې افغانستان ته را داخلي شوې نوپه لومړي سر کي ئي فکر کاوه چي دوی به په خپلو گارنیزیونونو کي اوسیږي او یوازې دضرورت په وخت کي به دافغانستان له وسله وال پوځ سره مرسته کوي .لیکن دموږدخلکو قهراوغصې دوی دزیات وخت لپاره ارام پرې نه شودل اوپه ډېره لنډه موده کي شوروي ځواکونه دې ته اړ شول چي په عملیاتو کي برخه واخلي او دلویو لارو دامنیت په خاطر دلارو په اوږدو کي امنتي پوستې ځای پر ځای کړي .دعملیاتو پلان به ددفاع دوزارت له خوا دشوروي مشاورینواو دشوروي ځواکونو دعمومي قوماندان په گډون په دفاع وزارت کي ترتیب کېده وروسته به بیا دوسله وال پوځ د اعلی سرقوماندان او جمهوررئیس موافقه اخستله کېده . د عملیاتو پلان اولارښوونه به ددفاع دوزارت په غاړه وه.دسره پوځ گارنیز یونونه او پوستې په هوایي ډگرونوکي او له ښارونو او کلیو څخه په لوی واټن سره لري پرتې وې. یوه بله مسئله چي دلته ئي دیادولو وړ بولم هغه داده چي دسرولښکرو منسوبینو دا حق نه درلود چي کلیو ته داخل شي او دخلکو دود اودستور ته ئي په کامله توگه احترام کاوه .چي ددې فکتور عمده دلیل هم دا ووچي دسره پوځ سرتېري ټول د مکلفیت ددورې سر تېري وو نه پروفشنل معاش خوړونکي . په دوی کي ټینگ انضبا ط اودسیپلین موجودوواوهیڅا نه شو کولای چي له هغه څخه سر غړونه وکړي ځکه سرغړوونکو ته درنه سزا ورکوله کېدله .د موضوع

دوضاحت لپاره ددرنو لوستونکو پاملرنه لاندي ټکو ته رااړوم : د کابل
جلال آباد په لويه لارکي دشورويانو يوې پوستې په يوه ټکسي موټر باندي
ډزي کړې وې اودسپرلۍ پنځه سره کسان ئي شهيدان کړي وو آفغاني
مقامات په دې باندي خبر نه وواوشوروي څارنوالانودا مسئله تعقيب کړې
وه اوددې جرم عاملين ئي معلوم کړي وواوداعدام حکم ئي صادر کړی
وو.شوروي مقاماتو له افغاني مقاماتوڅخه خواهش کړی ووچي دشهيدانو
ورثه ورته را پيداکړي .کله ئي چي ځني پوښتلي وو، دڅه لپاره؟ په ځواب
کي ئي ورته ويلي ووچي دجرم په عاملينو باندي داعدام حکم شوی دی
اومونږ غواړو داعدام حکم دشهيدانو دورثې په حضور کي تطبيق کړو.
يوه بله پېښه دکنړپه ولايت کي شوې وه چي شوروي سرتېرو يوه ښځه
وژلې وه،په دې پېښه کي شوروي مقاماتو له افغاني مقاماتو څخه غوښتنه
کړې وه چي دافغانانو دود اودستور ته په احترام سره يوافغان ډاکټر ور ته
معرفي کړي تر څو ددې مقتولې قبر وازکړي اودهغې له وجود څخه
ګولۍ( مرمي) راوباسي ترڅود قضيې مجرمين پيدا کړي . په دې ترتيب
سره ئي مجرمين پيدا کړه اوسخته سزا ئي ورکړه.په افغانستان کي د
شوروي ځواکونو عمومي قوماندان او فوق العاده استازی جنرال ميروروف
په خپل کتاب( په افغانستان کي رښتيا څه تېرېدل) ليکي چي:« دکابل
جلال آباد دلويي لاري په اوړدو کي ۱۱کسه بيګناه ملکي خلک وژل شوي
وو. داسي انګېرل کېده چي دادغلواوشوټمارو کاردی چي په دې هکله ئي
مسکو ته هم خبر ورکړې وه ولې زمونږ دتحقيق نتيجې وښودله چي دا کار
دشورويانو دپوستې له خوا سرته رسېدلی وو. ». که مونږ دې يرغل ته په د
قيقه توګه ځيرشو نودابه راته څرګنده شي چي شوروي ځواکونه کليوته نه
داخلېدل،پخپل سرعمليات ئي نه کول، د خلکودوداو ستورته ئي ژور احترام
درلود، بشري اوجنګي قوانين او مقررات ئي مراعات کول اوټينګ انضباط
اودسيپلين په کي موجود وو.

دوهم - دامريکا دمتحده آيالاتو يرغل :

دامريکا متحده ايالاتوله تروريزم سره د مبارزې تر نامه لاندي په افغانستان باندي
نظامي يرغل وکړاوددې لپاره چي دنړيوالوترانتقاد لاندي رانشي نودامنيت دشورا
داصولو خلاف ئي دهغې شورافيصله واخستله اوځانته ئي لاره جوړه کړه اولس
زره عسکر ئي دافغانستان په سهيلي سيموکي پلي کړل چي دطالبانوحکومت را
نسکور کړي. په افغانستان کي ئې دطالبا نوپه سنګرونوباندي ځواکمن هوائي
بمبارد پيل اودسترودقيقوپه الکترونيکي تجهيزا توسمبالوسلا ګانوپه مرسته ئي

دهغوی سنگرونه دړي وړي کړل اوپه کندز کي ئي د طالبانو نژدي اته زره جنګياليان شمالي ټلوالې ته تسليم کړه.شمالي ټلوالې ددې لپاره چي دهغوډالروپه مقابل کي ئې ښه چوپړکړی وي چي دامريکا له خوا ورکړل شوي وونوهغوی( د طالبانو نوموړي جنګياليا ن) او په شمالي ولايتونو کي په نوم پښتون چي زورئې وربااندي رسيده دطالب په نامه ونيول او په سترو کنتينرونو کي ئې دجوزجان ولايت دليلي دښتې ته انتقال او دټولو بشري حقونو اوانساني کرامت دنور مونو خلاف ئې مړه اوژوندي يوځای ترخاورو لاندي کړل چي دنړۍ په خبري اوډ له ايزواطلاعاتي خپرونوکي ئې هم انعکاس پيداکړی ووچي د بشر د حقونوملي اوبين المللي سازمانونوهم په سختو ټکوکي غندنه کړې ده . دطالبانوله سقوط څخه وروسته دامريکايي سرتېرو شمېراتيا زروته لوړ شو چي دافغانستان په سهيل ختيځو، سهيل لوېديځواوسهيلي سيمو کي ځای پر ځای شول او په دې موده کي يي دومره فجايع وکړې چي انسان ئي هيڅ تصور نه شي کولای ، مکمل کلي ئي بمباری کړه ، په ودونواو جنازوئي هوائي بمونه واورول ، کليو ته پخپل سر داخل شول او دخلکو ددود اودستور خلاف ئي دخلکو ورونه اودروازې په لغتو ورماتي کړې اوکورونو ته دخلکو درسم اورواج خلاف په خپل سرننوتل اوپه نيمه شپه کي ئي په ښځو، ماشومانواو بوډاګانودمرميو بارانونه واورول اوپه سلهاوو بيګناه خلک ئي شهيدان کړه .دامريکا ئي ځواکونود عملياتود پلان اوعملياتو په هکله افغاني مقامات نه خبرېدل اونه خبريږي په خاصه توګه دشپې دعملياتو په هکله خونه يواځي دا چي افغاني مقامات نه خبرېدل بلکه دحامد کرزي په خبره ئي هم غوږنه ګراوه .او کله به چي سوال ځني وشو چي تاسي ولې ملکي کسان وژنۍ؟ دوی به په ځواب کي ويل چي داټول طالبان دي حال دا چي اسنادو او شواهدو څرګندوله چي هغوی کوچنيان ښځې اوملکي کسان وو . بيابه چي خلکو غوښتنه وکړه چي ددې جنايت عاملين د محاکمه شي نوبيا به ئي يا استدلال کاوه چي داروحي ناروغي لري اويابه ئي امريکاته واستاوه چي دخلګو له سترګو ئي الونيا کړي .انضباط اودسپلين خو هيڅ وجود نه لري . دمثال په توګه په نيمه شپه کي څوکسه سرتيري له خپلي پوستې څخه ووزي ،کورونوته ننوزي او په خواږه خوب ۱۵ کسه ماشومان ، ښځې او بوډاګان شهيدان کوي اوهيڅوک ئې پوښتنه نه کوي . کله چي ددوی له قوماندانانو څخه سړی پوښتنه وکړي چي دا جنايت ولي شويدی؟ په ځواب کي وايي چي دا يوسرتېری ووچي روحي ناروغه وواوبيا ئي په فوري توګه امريکا ته استوي . دادی دنړۍ ديوقطبه سياست دپلي کولوعاملين .

اوس به دادواړه يرغلونه په عمده توګه سره پرتله کړواودافغانستان دخلکو په سيا سي،اقتصادي او ټولنيز ژوندکي به دهغوی پايلي سره پرتله کړو.

شوروي اتحاد دملګروملتونودکنوانسيون سره سم اودافغانستان اوشوروي اتحاد ترمنځ ددوستي همکاري او ښه ګاونديتوب دتړون د ۴ مادې په اساس يرغل وکړ دامريکا متحده ايالاتو دملګروملتونو دامنيت دشورا د فيصلې په اساس يرغل وکړ

شورويانود حفيظ الله امين حکومت نسکورکړاوامريکايانو دطالبانوحکومت نسکورکړ. د شوروي ځواکونو ګارنيزيونونه او پوستې په هوايي ډګرونواوله ښارونو او کليوڅخه دباندي په لري واټن کي پرتې وې اواجازه يي نه درلوده چي کليوته ننوزي ، يواځي هغه وخت دوی کليوته داخليدلای شول چي کوم طبعي ناورين به رامنځ ته شوی وو. داکاربه ياد دولتي مقاماتو په غوښتنه کېده چي ضروري مرستې ورته ورسوي او که دا دوی پخپل ابتکارسره کا وه نو بيا به يي د دولتي مقاماتو موافقه اخستله . دامريکادځواکونو ګارنيزيونونه چي هرځای دوی وغواړي موقعيت نيولای شي . شوروي ځواکو نواجازه نه درلوده چي دافغاني مقاماتوله خبرتيا پرته عمليات وکړي.ليکن امريکايي ځواکونه هروخت په هرځای کي چي وغواړي پخپل سر عمليات کوي چي په دې هکله جمهوررئيس حامد کرزي په وارو ار امريکائي مقاماتو ته شکايت کړيدی ،په خاصه توګه دشپې خودسره عملياتوخوټول خلګ تر دوو سپوږمو راوستي دي . شوروي ځوا کونو ځېلځايونه نه درلودل، ليکن دامريکايي ځواکونو هر ګارنيزيون خپل ځېلونه لرل چي داوږدې مودې ځېليان به ئي بګرام اوګوانتانامو ته استول.څومره چي دعبد السلام ضعيف له کتاب څخه څرګنديږي ددې ځواکونو په ځېلونو کي دبشردحقونو عادي نورمونه هم نه مراعات کېدل اوډېر له وحشته ډک برخوردونه شوي دي .شوروي ځواکونوټينګ انضباط اودسپلين درلود اماامريکايې سرتيری لېبيرال برخورد کوي اونظم اود سيپلين دومره نه مراعات کيږي . برسېره پر دې شوروي سرتېرو هم خپلوقوانينو اوهم زموږ قوانينوته احترام کاوه اوهغه ئي جدي مراعات کول اوامريکايي سرتېر ي نه خپل قوانين مراعات کوي اونه هم د افغانستان . ځکه هغه جنايتونه چي امريکائي سرتېرو په افغانستان کي کړي دي نه دامريکا قوانين هغوی ته اجازه ورکوي اونه هم دافغانستان. که په افغانستان کي دامريکايي سرتېرو جنايتونه اوسرغړونې له شوروي سرتېروسره پرتله شي نودابه ښه څرګنده شي چي دامريکايانوجنايتونه اوسرغړونې کم له کمه لس ځلي زياتي شديدې اووحشيانه دي نظر شوروي سرتېروته .

پورته مودشوروي سرتېرود دريو جنايي پېښو يادونه وکړه چي د دريوسره پېښوعاملين په افغانستان کي داعدام تر حده محکوم شول ليکن په اوسني يرغل کي به څوک يو سرتېری يا افسرهم پيدانه کړي چي ددې سترو جنايتونو سره سره په افغانستان کی محاکمه شوی وي. دتېرکال د سپتمبر په ۱۵ يا ۱۶نيټه ايتلافي ځواکونو دلغمان دولايت په يوه سيمه باندي هوايي بمبارد وکړچي په نتيجه کي ۸ ښځي چي عمرونه ئي د ۱۶ تر ۳۵ کالونوپوري ووشهيدانې او ۷ کسه نوري ټپياني شوې. کله چي دځوا کونوله مسئولينوڅخه پوښتنه وشوه چي دا بمبارد مو ولي کړی دی؟ هغوی په ځواب کي وويل چي اطلاع ئي اخستې وه چي په سيمه کي طالبان موجودوو. که طالبان موجودوای نودشهيدانواوزخميانو په

منځ کي خو باید نارینه سړي هم موجود وای . له دې څخه دا څرګندیږي چي په نوموړې سیمه کي بیوزلي ښځي وې چي دخپلوکورنیو لپاره یي لرګي اودسون نور مواد راټولول .
اوس دادوه یرغلونه په مختلفوموارد وکي په لنډه توګه پرتله کوم شوروي یرغل دثور دپاڅون دڅغورني په شعار پیل شو اودامریکا یرغل دجورج ډبلیوبوش له خوا دصلیبي جګړې اوبیاوروسته له تیروریزم سره دمبارزې په شعارباندي پیل شو، په لومړي یرغل کي استدلال کېده چي د ملګرو ملتونو دکنوانسیون اودافغان شوروي ددوستي همکاري اوښه ګاونډیتوب دتړون په اساس افغانستان ته راغلي دئ اوپه دوهم یرغل کي استدلال کېده اوکیږي چي دامنیت دشورا دفیصلې په اساس راغلي دي ، دلومړې یرغل په نتیجه کي دحفیظ الله امین حکومت رانسکور شو خودولتي سیستم پرځای پاتي شو اوددوهم یرغل په نتیجه کي دطالبانو حکومت رانسکور شو، دولتي سیستم ړنګ شو اونوی موقت حکومت په بن کي وټاکل شو،
دلومړي یرغل د یرغلګروپوستې اوګارنیزونونه له کلیواودخلکو له مېښت ځایونوڅخه دباندي په لري واټن کي قرار درلودل اوکلیوته ئې دننوتلو حق نه درلود اوددوهم یرغل یرغلګرو په هرځای کي چي غوښت پوستې اوګارنیزونونه ئې جوړ کړه اوپه کلیوکي خو په خپل سر دشپې اوورځې دخلکو ددود اودستور خلاف ګرزېدل او راګرزېدل ،دلومړي یرغل په وخت کي وسله والو ځواکونو دملګرو ملتونو له کنوانسیون سره سم اجازه نه درلوده چي په کلیوباندي بمونه وغورزوي اویادتوپچي اوزرهي ثقیلو سلاو څخه کار واخلي، خوددوهم یرغل په وخت کي نه یواځي داچي کلي ئې په بیرحمانه توګه بمبارد کړه بلکه په ودونو اوجنازوئې هم بمونه واورول .دشورويانوپه وخت کي به ټول جګړه ایز عملیات په دفاع وزارت کي پلان کېدل اودوسله وال پوځ د اعلی سرقوماندان په موافقه به بیا ددفاع دوزارت تر لاربښوونه لاندي مستقل اویا ګډ عملیات کېدل دامریکایانو په وخت کي افغاني لوری دعملیاتود پلانګذاري اود هغوی دپرمخ بیولوپه هکله هیڅ نه خبریږي آوپه واروار په دې هکله شخصاً حامد کرزي امریکائي مقاماتوته شکایت کړی دی ، سرولښکرو ځېلځایونه نه درلودل خوددې یرغل په وخت کي موجوددي، سرولښکروهم زموږ.اوهم خپلو قوانینوته احترام کاوه اوټینګ انضباط اودسپلین ئې درلودلیکن امریکایان نه زموږ قوانین اونه هم خپل قوانین مراعات کوي اوانضباط اودسپلین هم نه لري . دشوروي اتحاددیرغل په وخت کي په خاصه توګه دډکتور نجیب الله ترلاربښوونه لاندي حکومت دهیواددودې اوپراختیا اونورو برخوکي په کامله توګه مستقل عمل کاوه او تصمیم به ئې نیولو. دموضوع دوضاحت لپاره غواړم دبربښنا دودې اوپراختیادشل کلن پلان په هکله لنډ معلومات وړاندي کړم.کله چي زه داوبو اوبربښنا وزیروم نودبربښنا دودي او پراختیا شلکلن پلان مو طرح کړ چي په ۱۹۹۲کال کي ۲۲۰کیلوولټه لین او په ۱۹۹۵ کال کي دوهم سروبي اوپه ۲۰۱۰کال کي دباغدرې دستګاه تکمیل شي . ددې پلان په هکله

مې کښتمند ته چي صدرعظم ووګذارش ورکړ چي هغه په ظاهر کي تائيد کړ ولی بيا ئې وروسته دصدارت مشاور ته ويلي ووچي پکتين( ليکوال) نه غواړي د ۲۲۰ کيلوولټه لين جوړشي بلکه هغه دوهم سروبې ته ترجيح ورکوي ورپسې دوئ پخپل منځ کي دوزيرانو دشورا دفيصلې مسوده ترتيب کړې وه بيا ئې ماته راوړه چي زه خپل نظر ورکړم خومادافيصله رد کړه اوورته ومې ويل چي دا عملي نه ده اواقتصادي هم نه ده ځکه د باغدرې لاسروې هم نه ده شوې اوددوهم سروبې سروې اوپروژه سازي تکميل دي اويوازې کاري نخشې ئې پاتي دي .با لاخره مشاورته له مسکو څخه اخطار راغی چي ولي دوزارتونو په کارونوکي مداخله کوي . دادی زموږ استقلاليت.

اوس غواړم دلته يوې بلې موضوع ته ددرنولوستونکو پاملرنه راواړوم اوهغه داچي دمذهبي تنظيمونو رهبران اويوشمېردولتي چارواکي چي ددې تنظيمونوغړي اويا ئې خواخوږي دي وايي چي موږ جهاد کړی دی ، شوروي ته مو ماتې ورکړې ده ، دموږ دجهاد له برکته دبرلين دېوال ړنګ شو او دختيځې اروپا ځني هيوادونه اودپخواني شوروي اتحاد جمهوريتونه آزاد شول .که حقيقت ته په ځير سره وګورو نودا به څرګنده شي چي نوموړې جګړه اوپورته ذکرشوې نړيوالي پېښې د تنظيمونواودهغوی دجهاد له برکته نه بلکه ټول عيني شواهد دا څرګندوي چي دا دامريکادمتحده اياالاتود پورتني پړاويز پلان په اساس دامريکا اوشوروي اتحاد تر منځ جګړه وه چي د مذهبي تنظيمونورهبرانودافغانستان دزړور، پياوړي او مجاهد اولس له صداقت څخه په استفادې سره د جهاد ترنامه لاندي دامريکا د پلي ځواکونورول ولوباوه اودلسو کالونو په جريان کي ئې پلونه اوپلچکونه ، ښوونځي او روغتونونه اونورعام المنفعه تاسيسات ړنګ کړل، په ښارونو ئې راکټي بارانونه واورول اوباالاخره دملګرو ملتونو پروګرام ئې هم له ناکامي سره مخامخ کړاوسياسي قدرت ته ئې ځانونه ورسول.وروسته يې بيا پخپلمنځي جګړو پيل وکړچي دکابل دښار په شمول ئې زيات ښارونه په کنډوالو باندي بدل کړه، دخلکومالونه اودارايي اوملي شتمني ئې چورکړه ملي اوردوچي دملي حاکميت اود ځمکنۍ بشپړتيا تضمين ئې کاوه ړنګه کړه اويوازې دکابل په ښار کي د ۷۰ زرو په حدود کي خلکو خپل خوږ ژوند له لاسه ورکړاوددوهم يرغل اصلي عاملين همدغه جهادي رهبران اوجنګسالاران دي چي زمينه ئې ورته برابره کړه . دې فجايعو ته په کتني سره په کوم افغاني وجدان سره داخبره کوي چي په داسي حال کي چي د ۴۵ هيوادونو سرتېری زموږ په هيواد کی موجوددي اوپه خپل سر هرڅه چي غواړي هغه کوي ليکن دا تنظيمي رهبران او جنګسالاران لافي وهي چي شوروي ته ئې ماتي

ورکړې ده .حامد کرزي دابوالکلام آزاد په کنفرانس کي وويل:«غرب له دين څخه په استفادې سره کمونستانو(شوروي) ته ماتي ورکړه اوبيا ئې دخپل تسلط په خاطر له هغه څخه استفاده وکړه » . سره له دې چي دادواړه يرغلونه ماهيتاًيوډول دي خو يواځي دشکل په لحاظ يوله بل سره ځيني توپيرونه لري .خوداتنظيمي رهبران له شوروي يرغل سره په مبارزه باندي وياړي اواوسني يرغل ته لاسونه پړکوي چي له سالم افغاني اواسلامي وجدان سره هيڅ سمون نه خوري

ښاغلو تنظيمي رهبرانو! لږ خپل سرونه خپلوګرېوانونو ته ټيټ کړئ او فکر وکړئ ټول شواهدداڅرګندوي چي شوروي اتحاد ته خوامريکا په سياسي ډګر کي ماتي ورکړې ده اوکله چي ددکتورنجيب الله په ابتکاردملی روغي جوړې سياست پيل شو نوشورويان په خپله خوشه دژينو له توافقاتو سره سم ديوه منظم پروګرام په اساس له افغانستان څخه ووتل.تاسي به هغه وخت په سرلوړي سره لافي وهلي چي په هيواد کي مو امنيت تامين کړی وای ملي حاکميت مو ساتلی وای اود اداري فساد،غلا،چوراو چپاول مخه مو نيولې وای. ستاسي په وجود کي چي سياسي اوفکري کړنلاره مو نه درلودله ، سره له دې چي په هيواد کي ظرفيتونه موجودوو ليکن په سيستم کي داسي اشخاصو قدرت واخست چي نه يي دکار روحيه درلوده اونه هم دکار پوهه .او له ملي ظرفيتونوڅخه استفاده ونه شوه اودخپلوي ګروپي اوپه فساد باندي ولاړ سيستم منځ ته راغی اوځينو مافيايي ډلودولتي مقامونه اشغال کړه چي نه ئې د کار استعداد، نه ئې سياسي تقوااو نه ئې هم له وطن سره مينه درلوده او دامريکا ديرغل په نتيجه کي قدرت ته ورسيدل چي مسئوليت ئې ستاسي په غاړه دی .

په تېرو يوولسوکلونو کي تاسي ته ډېرمهم اوتاريخي چانس اوفرصتونه په لاس درغلي ووخو له بده مرغه له هغو څخه ګټه وانه خستله شوه اوهيواد له داسي بحران سره مخامخ شو چي نه يواځي زموږ ملي ارزښتونه بلکه دهيواد موجوديت ئي هم تر پوښتني لاندي راوستی دی . زموږ خلک خو په هيواد کي دايمي او عادلانه سوله ، دهيواداقتصادي پرمخ تګ او بيا رغاونه ، ملي يووالی ،ټولنيز عدالت او دافغاني ټولني د ځانګړتيا وو په نظر کي نيولو سره ددموکرا تيکي ټولني رامنځ ته کول چي د سترو ملي ارزښتونوڅخه ګڼل کيږي ، غواړي .خوددې يرغل په نتيجه کي موږداټول ارزښتونه له لاسه ورکوواوټول ملي افتخارات اوهيواد مودنابودي کندې ته غورزول کيږي .

ګرانو هيوادوالوپه تاسي ټولوپاندي ږغ کوم چي نور مه پرېږدئ چي دانااهله هيواددشمنه وړوکي ډلګۍ ستاسي په ملي افتخاراتواووطن باندي لوبي وکړي.را پورته شئ اوددې سياسي ناورين په هکله خپله ژوره کرکه څرګنده کړئ .

په رڼاآندو اووطنپالودموکراتيکو ځواکونو باندي ږغ کوم چي نورخپل پخواني فکري او سليقوي اختلافونه سره لري کړئ اوديوه وطنپال او دموکرات افغان په توګه دملي يووالي په روحيه سره يوموټی شئ اوداويرانوونکي ناورين ختم کړي ترڅو يرغلګرونه شي کړای چي خپلې ناولې موخي تر لاسه کړي.راځئ ټول په ګده سره دخپل ملي او تاريخي رسالت په پام کي نيولو سره ديوې دموکراتيکي ټولني دجوړېدو په لار کي رغنده برخه واخلواوپه هيواد کي داسي فضا رامنځ ته کړوترڅو زموږ خلک دنوري متمدني نړۍ دخلکوپه څېر هوسا اوبسيا ژوندوکړي

پای